# د لويو ډبرو لرونکو ځايونو کې د کب نيولو پر مهال خوندي اوسئ – Sunderland Bay

## څنګه کولو شو له لويو ډبرو څخه خوندي کب نيونه وکړو

د لويو ډبرو لرونکو ساحو څخه کبان نيول او راټولول د کب نيولو او د بهر ساحو څخه د خوند اخيستلو عالي لارې دي مګر خطرناکه کيدی هم شي.

له لويو ډبرو څخه د کب نيولو يا راټولولو پرمهال د خوندي پاتې کيدو لپاره 4 ساده لارې شتون لري:

1. له تلو څخه دمخه چمتووالی ونيسئ
2. رسيدو سره سم ساحه وګورئ
3. د کب نيولو پرمهال محتاط اوسئ او
4. تل ژغورونکی جاکټ واغوندئ.

## څه بايد وکړل شي که يو څوک اوبو کې لاهو شي

که چيرې يو څوک په بحر کې لاهو شي پدې پوهيدل مهم دي چې په داسې وخت کې څه بايد وکړل شي.


1. مه وارخطا کيږئ - ارامه اوسئ او په لامبو کولو سره له لويو ډبرو څخه لرې لاړ شئ.
2. که يو څوک په اوبو کې لاهو شي نو اوبو ته ټوپ مه وروهئ، په ځای يې،
3. هغه کس ته يو پړی يا يو داسې څه چې په اوبو کې نه ډوبيږي، د يو ژغورونکی جاکټ په شمول که شتون ولري، ور وغورځوئ بيا،
4. د خپل ګرځنده تليفون څخه 000 يا 112 ته زنګ ووهئ يا د مرستې په موخه د نورو خلکو موندلو لپاره لاړ شئ.

## د ډوبيدو لوړ خطر لرونکې ساحې؟

ډيری خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی ځکه چې دوی په ويکټوريا کې د لويو ډبرو لرونکو ساحو څخه د کب نيولو يا راټولولو پرمهال په اوبو کې غورځيدلي دي.

د کب نيولو پر مهال د لا نورو مړينو مخنيوي لپاره، هر هغه څوک چې د لوړ-خطر لاندې ټاکل شوو ساحو کې کبان نيسي يا ورڅخه يې راټولوي، **بايد** يو ژغورونکی جاکټ واغوندي.

### Sunderland Bay, Phillip Island




په هر صورت، که تاسو په کوم لويو ډبرو لرونکي ساحه کې ياست، نو که تاسو کبان هم نه نيسئ، VFA تاسو هڅوي چې يو ژغورونکی جاکټ واغوندئ.

## نور معلومات

د لوړ خطر ساحو او په لويو ډبرو لرونکو ساحو کې د کبانو نيولو پرمهال خوندي پاتې کيدو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، په ژبو کې د معلوماتو په شمول، مهرباني وکړئ د VFA له ويب پاڼې څخه په: vfa.vic.gov.au/rockfishing ليدنه وکړئ يا ښي لور ته QR کوډ سکين کړئ.

VICTORIA State Government

We're hooked on SAFETY

Victorian Fisheries AUTHORITY

# په لویو ډبرو لرونکو ځایونو کې د کب نیولو پر مهال خوندي اوسئ

## زه کوم ډول لایف جاکټ ته اړتیا لرم؟

ستاسو لایف جاکټ باید د آسترالیایي معیار (AS 4758) سره مطابقت ولري او باید وي:

- د 50S په کچه/اندازه یا ورڅخه لوی لایف جاکټ
- ستاسو په سمه اندازه
- په ښه توګه کارکونکی وي. ډاډ ترلاسه کړئ چې د تړلو کلپونه یې کار کوي او پټی یې خوړل شوي نه وي.
- په سمه توګه اغوستل شوی وي چې ټول زیپونه، د تړلو کلپونه او پټی یې په سمه توګه خوندي شوي وي
- په منظمه توګه سروس شوی.

هغه لایف جاکټونه چې یوازې د پرسیدلو خوله لرلو باندې تکیه کوي نشي کارول کیدی.

## ایا ماشومان لایف جاکټ ته اړتیا لري؟

هو، ستاسو تر څارنې لاندې هر ماشوم باید لایف جاکټ واغوندي حتی که دوی کبان هم نه نیسي.

د ماشومانو لایف جاکټونه باید:

- د آسترالیایي معیار سره مطابقت (AS 4758) ولري او
- د 100 کچې لایف جاکټ یا ورڅخه لوی وي.

## د ځوانانو لپاره مناسب لایف جاکټونه

| | |
|---|---|
| 100 کچه (1 ډول) |  |
| 50 کچه (2 ډول) |  |
| 50S کچه (3 ډول) |  |

## د ماشومانو لپاره مناسب لایف جاکټونه

100 کچه (1 ډول یا لوی)






VICTORIA State Government

We're hooked on SAFETY